UNAMA
د یوناما مطبوعاتي بیانیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په افغانستان کې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي ټول ډولونه پای ته ورسوئ**

**کابل، د نوامبر ۲۵ مه ۲۰۲۲ -** په افغانستان کې ملګري ملتونه د دې هېواد له واکمنو چارواکو څخه غوارې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو او د ښځو د حقونو د پراخې ویجاړۍ او د یوې باثباته او تلپاتې سولې د رامنځته کولو د هڅو د یوې حیاتي برخې په توګه سملاسي ګامونه پورته کړي. دا غوښتنه په داسې حال کې کېږي چې په ټوله نړۍ کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیواله ورځ او د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي پر وړاندې د مبارزې ۱۶ ورځنۍ کمپاین پیل شو.

د ۲۰۲۱ کال له دوبې راهیسې، په افغانستان کې د ښځو ډېر بنسټیز حقونه محدود یا لغوه شوي، هغه هم په داسې یوه هېواد کې چې د نړۍ په کچه یکې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه تر ټولو لوړه ده. افغان میرمنو د جنسیت پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه د ژوندي پاتې کېدو لپاره همغږو، هراړخیز او باکیفیته خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې د پام وړ خرابی تجربه کړي دي. په ورته وخت کې، د دې خدماتو غوښتنه د پخوا په پرتله لوړه ده.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې روزا اوتنبایوا وویل: "د افغان ښځو بنسټیز حقونه باید خوندي شي او د یوه داسې چاپیریال لپاره چې له هر ډول تاوتریخوالي څخه پاک وي باید کوټلي ګامونه واخیستل شي. " اوتنبایوا، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مشره هم ده، وویل: "د ښځو د حقونو ساتنه په افغانستان کې د ثبات، سوکالۍ او تلپاتې سولې لپاره یو مهم عامل دی".

وضعیت د سخت بشري او اقتصادي بحران او د ښځو پر اساسي حقونو لکه په خپله خوښه تګ راتګ، کار، زده کړو او په عامه ژوند کې د برخې اخیستنې د محدودیتونو له امله لا پسې خراب شوی. دا فکتورونه، ځینې دودیز ټولنیز نورمونه چې د تاوتریخوالي کارول د ډسپلین او کنټرول په توګه مني، پیاوړي کوي او یو داسې چاپیریال رامنځ ته کوي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې یکې تاوتریخوالی نورمال کیږي.

د داسې قوانینو او پالیسیو په نشتوالي کې چې د جنسیتي برابرۍ او د ښځو دحقونو ملاتړ او ورته وده ورکوي، د داسې قوانینو او مقرراتو معرفي کول چې په سیستماتیک ډول په عامه او سیاسي ژوند کې د ښځو په ګوښه کولو کې مرسته کوي، هغه بنسټیز ټولنیز نورمونه چې دنابرابرۍ د دوام سبب کیږي لانور پیاوړي شوي دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو استازې الیسون ډیویډیان وویل: "مونږ وینو چې هره ورځ د ښځو او نجونو پر وړاندې د هغوی په کورونو، په هغو ځایونو کې چې دوی د کار کولو اجازه لري، په آنلاین او عامه ځایونو کې تاوتریخوالي دعادي کیدو پر لور درومي".

"په نړیواله کچه، مونږ په دې پوهیږو چې د یو داسې چاپیریال رامینځته کول چې د میرمنو او نجونو پر وړاندې له تاو تریخوالي څخه پاک وي، د یوشمیر مشخصو ګامونوله پورته کولو پرته، لکه ددوی دغږ د ملاتړ لپاره نوښتونه کول، او په هغو پریکړو کې د هغوی ګډون چې د دوی پر ژوند اغیزلري، ددوی پیاوړتیا ناشوني ده. مونږ باید په افغانستان کې د ښځو او نجونو د ملاتړ او پیاوړتیا په برخه کې د پانګونې لپاره خپلې هڅې نوې کړو".

په افغانستان کې ملګري ملتونه د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي ته د رسیدنې لپاره د زیان منونکو ښځو او نجونو بیلابیلو اړتیاوو ته د ځواب ویلو، د ښځو دلومړیتوبونو او نفوذ پیاوړي کولو او پراخولو په برخه کې فعالیت کوي، د خدمتونو د وړاندې کونکو ادارو او مدني ټولنود مستقیم ملاتړ او تمویل له لارې هڅې کوي چې د هر ډول تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره له کلیدي ملي او نړیوالو شریکانو سره د تاوتریخوالي د مخنیوی، غبرګون، او د او عدالت غوښتنې پروګرامونه پلي کړي.

د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي پر وړاندې ۱۶ ورځنی فعالیت یو نړیوال کلنی کمپاین دی چې د نومبر په ۲۵ پیلېږي او د ډسمبر پر ۱۰ مه د بشري حقونو د نړیوالې ورځې په مناسبت پای ته رسیږي . دغه سازمان د پوهاوي لوړولو، د ملاتړ هڅو د پیاوړتیا، او په هر ځای کې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره د پوهې او نوښتونو شریکولو لپاره د نړیوال اقدام غوښتنه کوي.

* * *